مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

حفیظ الله خوږلن ۲۰۲۱/۰۷/۰۸

د زمــري په څرمــن کې له یو پټ شوي ګیدړ سره څــوخبرې

وايي انسا نان د چای کڅوړوته ورته دي،چې قوت يې په پياله کې راڅرګندیږي. له دغوبې وزنه اوبې قوته انسانانو څخه يو هم د پدرام په نامه هغه بد نامه سياسي نانځکه ده چې تل يې د هرسياسي ستيج دپاسه هر ډول سياسي نغمې ته په ديپلومتيک خرام سره بې دريغه څڼې اچولې،او په مزه مزه ورته نڅيدلی دئ .
د دغه سياسي اکتور(کوم چې ريموت کنترول يې د ګاونډيو هيوادو داستخباراتي شبکو په لاس کې دی) مــلي سياسي،ټولنيز،اخلاقي او خراساني وزن هغه وخت ښه بر ملاشو چې په ډيروتاوجنوجګړه ايزو شپو او ورځوکې يې د خپل تش په نامه ګوند(کنګره) ملګري،خپل موکلين او په ټوله کې د بدخشان بې اسرې ولس يې پريښود،او دی ترې په ډيرې بې ننګې په يوې الوتکې کې پايدان کشال کابل ته راوتښتيد،او له لال او لاجوردو،اوله سرو اوسپينو زروډک بدخشان يې له پاکستان نه راغلو غلوته په ميدان پريښود.
زمونږ سپارښتنه دغه خرڅ شوي او اجير سياستوال ته داده ،چې اوس خو دې قوت هم په پياله کې معلوم شو، نو وروسته تر دې ترڅو چې د دې وياړلي افغانستان له هوا او اوبو څخه ګټه اخلي ،تر څو چې پــه افغاني پاسپورت ايران،تاجکستان،پاکستان،دوبئ او اروپايي هيوادو ته د جاسوسي او عياشي دپاره سفرونه کوي، نو نور دا د خراسان غوښتني رمبــاړې مه وهــه. ځکه دا د وطن له مــور سره جفا او نمک حرامي ده.
اوس ستا د بدخشان ښاسته پيغلې،زړورځلميان اوپه وطن مين بوډاګان ،په يو غږ اولوړ اواز تا کاغذي ببر ته داسې پيغور درکوي:

مـونږه يې پريښودو د ښـمن ته
په دا بې نـنګه پدرام ډير مونږ نازيدونـه
شکرچې خدای موږته رسواکړې
مونږدې په تشولاپو ډير وغوليــدونـــه

*****

دوې څــلوريځــې

پدرام ته

زړه يې ماسکو، سريې ايران سره دئ
جسم يې کابل،روح پاکستان ســره دئ

په بده ورځ تــرې طــياره کــې تښتي
په اخترو کـــې بــد خـــشان سره دئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

خراسان غوښتونکوته

افغانستان نوم بدلول ،یو خوب او خیال بریښي
د دغه نوم دښمنان مونږ ته پردي پال بـر ښي

خراسان ومـــړ، د تاریخ په هدیره کي خښ دئ
دا مړی بیا ژوندی کـــول راتـه محـــال بریښي

حفیظ الله خوږلن
کانادا

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ